# د یهودیانو فسح"Pesach"

کله چې عیسی علیه السلام  د خرما وني یکشنبې په ورځ بیت المقدس کې په آس سپور وو ، هغه او مریدان یې د یهودانو د فسحې جشن دلمانځلو لپاره روان وو . Pesach د یهودانو د فسحې اختر دی،او په لمانځلو یې د هغه وخت یادونه کوي کوم چې بني اسرائیل د فرعون په وخت په مصر کې غلامان وو.

## د موسی علیه السلام کیسه

په لرغوني انجیل کې د موسی په لومړي کتاب کې، د ا سی لولو چې مصر ته د اسراییلیانو  د راتګ ښه هر کلی وشو. خو څو کاله وروسته د اسراییلیانو په ډیریدو سره هغه چا چې په مصر کې پریکړه کړې وه - فرعون اندیښمن شو . نو له همدې امله  بني اسرائیل یې غلامان کړل او  فرعون امر وکړ چې د اسراییلو ټول هغه نوي زیږیدلي هلکان دې ووژل شي. د موسی علیه السلام مور نه غوښتل چې ماشوم یې ووژل شي. له دې امله خپل زوی یې په یوه ټوکرۍ کې کېښود او ټوکرۍ یې د "نیل" په سیند کې خوشې کړه. په دې هیله چې یو څوک به یې ومومي او ښه پاملرنه به یې وکړي. د فرعون موسی علیه السلام یې د سیند پر غاړه په ټوکرۍ کې وموندلو. او هغې د موسی علیه السلام ښه پاملرنه وکړه. له همدې امله موسی علیه السلام د فرعون په کورنۍ کې لوی شو.




*Moses blir lagt i en kurv. Illustrasjon: Adobe Stock*

کله چې حضرت موسی علیه السلام لوی شو، خدای تعالی"حضرت موسی" علیه السلام ته په سوځیدونکي د اغزي بوټي کې ښکاره شو. خدای تعالی "حضرت موسی" علیه السلام ته وویل چې هغه بایدبه په مصر کې د غلامانو سره مرسته وکړي، او "حضرت موسی" علیه السلام په اصل کې یو اسراییلی و. دی د هغه خلکو نه وو چې د هغه چا دغلامۍ لاندې ځورول کیدل کوم چې ده ورته پلار وی. خدای تعالی "حضرت موسی" علیه السلام ته وویل چې باید له فرعون څخه وغواړي چې غلامان خوشې کړي. "حضرت موسی" علیه السلام باید اسراییلیان له مصر څخه وباسي او بل هیواد ته چې د کنعان هیواد نومیږي رهبري کړي.

## لس عذابونه او لومړنی فسحه

موسی علیه السلام فرعون ته ورغی تر څو چې د هغه نه وغواړی چې بني اسرائیل ازاد کړي، خو فرعون د هغه خبره ونه منله. نو خدای په مصر باندې لس عذابونه ، د طاعون ، تیاره  او ملخان په شمول ولیږل. په پای کې ترټولو سخت عذاب راغی: هغه دا وو چې  د څښتن له خوا یوه فرښته د ښار په کوڅو کې ګرځیدله او د هرې کورنۍ ټول هغه نوی زیږیدلي ماشومان یې وژل.

اسرائیلیانو لا دمخی د موسی علیه السلام  په ذریعه د خدای لخوا خبرداری ترلاسه کړی و. نو له همدې امله دوی د وری د حلالولو او د دروازو په چوکاټونود ویني په موښلو سره د مرګ له فرښتې څخه ځانونه  وژغورل. فرښته د هغه کورونو څخه تیریده چیرې چې د دروازو په چوکاټونو یې وینی وی.  مګر بل هریوه کور ته ننوتله. د دې لسم عذاب د مخنیوي لپاره، فرعون باید اسرائیلیانوته اجازه ورکړي چې له مصر څخه ووځي.  همدا پیښه وه چی د یهودي  فسحې  د منځ ته راتلو لامل وګرځیده.



*Utvandringen fra Egypt. Illustrasjon: Adobe Stock*

## یهودیان څنګه د فسحې اختر لمانځي؟

یهودیان د فسحې د اختر په لومړۍ ماښام کې، د( سیډر ) په نامه خواړه خوري. دا خواړه یهودانو  ته د مصر څخه ددوی لېږد ور په یادوي. خواړه د شرابو  د ډیروالی د برکت سره پیل کیږي. سیډر خواړه  په یوه غوری کی لړ لړ مختلفه کتخونه یا سالنونه په وړو قابونو کی وی چې هر یو یې ځانګړي معنا او مفهوم لري. د خواړو په پیل کې ، یهودیان یوه شمع روښانه کوي، کوم چې دوی ورته د سابات شمع وایې.

**د سیډر په بشقاب کی خواړه**



*Bilde: Pxhere, Robert Couse-Baker*

- **مټزا :** یوه فطیره ډوډۍ ده، یعني هغه لامده شوی اوړه چې نه وي رسیدلی/ پاستی.کله چې یهودان له مصر څخه وتل دومره وخت یې نه درلود چې اوړه ورسیږي اوبیا ډوډۍ پخه کړي.
- **چاروسیټ:** د مڼې، واین او مغزیاتو د ګډولونه جوړیږي. دا خواږه یهودانو ته هغه د خښتو د یوالونه ور یادوی کوم چې د غلامانو په توګه د مصریانو لپاره یې جوړول.
- **زروه / زیروا** د وری د ورون هډوکي یا د چرګ وزر یا غاړه ده. دا خواږه د فسحې د قربانۍ سمبول دي. د فسحې قرباني یو پسه وو چې د بیت المقدس په معبد کې د ډالۍ په توګه ورکړل شوې وه. کله چې معبد ویجاړ شو ،نو پسه یې کباب کړ.
- **چازرت:** تریخ بوټي یا سلات دي چې د مصر له ترخو خاطراتو څخه یادونه کوي.
- **بیتاه :** یوه سخته جوش شوې هګۍ ده چې د مقدسې ورځې دقرباني سمبول ده چې د پیساچ قربانۍ سربیره، معبد ته راوړل شوی وه.
- **کارپاس: د** مالګیو په اوبو کې ډوب شوي ګشنیزو په شان بوټی دی **(persille)** چې اوبه په بوټی باندی اوښکو ته ورته کیږي. دا کار د هغو اوښکو یادونه کوي کومې چې یهودانو په مصر کې د غلامۍ په وخت کې توبولی.
- **مالګې اوبه:** د یهودانو د اوښکو نښه ده چې په هغه کې دګشنیزو په شان بوټی او هګۍ ډوبوي.

د سیدر د شپې د پیښو ترتیب په یوه کتاب کې چې دهاګاداه په نوم یادیږي لیکل شویدی. په هاګاداه د نورو موضوعاتو ترڅنګ ، د یهودانو د غلامۍ / او د مصر څخه د لیږدیدلو کیسې ، داستانونه اود سیډر د ترسره کیدو توضیحات لیکل شوې دی.

د سیډر د شپې په جریان کې، د سیډر قاب او دا نور شیان یې د هګګاه د کتاب دود او دستور ته راجع شوي. د سیډر لوښي چې د فسحې سره تړاو لري  او په ټولو یهودي کورونو کې هر یو خپل ځان ته د اخواړه لري ، که څه هم هرڅوک د داسې عالي خوړو چې په پورته انځور کې ښودل شوي،  امکانات نلري .

د سیډر دخوړو جشن دواړه هم خوشحالی او هم غم وړ دي. دوی باید د مصر هغه بد وختونه په یادولورغمجن، مګر د خوښۍ ځاې دلته دې چې یهودیان د غلامۍ څخه په تیښته بریالي شول.